# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| ادبی - فرهنگی | Literary - Cultural |
| --- | --- |

انجينر داؤد اڅک
۲۷ دسمبر ۲۰۱۷

## د (وند، من، مند) وروستاړي په پښتو او فارسي ادب کي

که موږ او تاسو د ادبیاتو په لرغونتوب پسي ځراغ واخلو، نو د تاریخ د ډېرو پړاوو او تیارو څخه په تیریدو به ، کله د ګیلګمیش د منظومي سره کله به په اویستا کي د زردښت د ګاتو (ګاتو) سره او کله به هم د یونان د حماسي شاعر (هومر) د ایلیاد او ادیسه په نامه د حماسي منظومو سره مخ سو چي د ( تروا ) د جنګ په هکله ئي لیکلي دي .
ګیلګمیش هم تقریباً ۲۷۰۰ کاله مخکي تر میلاد د اوسني عراق د ( اوروک ) په ښار کي د سومریانو یو غښتلی او نامتو پاچا وو چي نوموړي منظومه دده د ژوند او جنګوو بیان کوي . معنا داچي ادب ډیر لرغونی ، پراخ او د باندار وړ مفهوم دی ، خو ز ه ئي په لنډ ډول او لږو ټکو کي داسي درپيژنم:
ادب د ښکارهنګ (فرهنګ) ښایسته او نازولي برخه ده چي د ټولني بیل او جلا جلا اړخونه په ښکلي ، خیالور او عاطیفي انداز کي تمثیلوي . ځکه نو د ادیب او عالِم توپیر همدا دی چي :
ادیب تل په ښایسته شي یعني ښکلا پسي ګرځي ، خو عالِم بیا په تجربه پسي لستوني را نغښتي وي . په هر ادب کي چي ساده او ښکلي کلیمي ، معنا لرونکي وروستاړي او مختاړي (پسوند ، پیشوند) کارول سوي وي په هغه کچه به ادب ښکلی او روان وي . ادب چي د شکل له مخي پر شعر او نثر ویشل سویدی د نورو مفاهیمو په شان واحد او منل سوی تعریف نلري .
ادب په لغوي لحاظ د پوهي ، ښکارهنګ ، فضیلت ، هنر او اخلاقو په مفهوم دی، خو په اصطلاح کي بیل بیل تعریف سویدی چي یو عام تعرف ئي په لاندي ډول دی :
ادب هغه خبري دي چي د عامیانه بیان څخه ښکلي او په لوړه سطحه بیان سوي وي څو د اوریدونکي یا لوستونکي پر احساس باندي تأثر وښندي . یعني خیالور او د احترام خاوند وي چي د مکتوبي بیان سره ئي توپیر په همدغه کي دی .
اوس به راسوو خپل اصلي باندار ته چي د (وند، من، مند) د وروستاړي یا پسوند کارول دي په پښتو او فارسي ادبیاتو کي . موږ او تاسو وینو او اورو چي نوموړي درې وروستاړي د یوه مقصد لپاره پکاریږي . اوس زما مقصد همدادی څو ثابته کړم چي کوم پسوند یا وروستاړی درست او د معنا خاوند دی .
تر کومه ځایه چي لیدل کیږي (وند) په فارسي ادبیاتو کي په عام ډول نه بلکه په ځانګړو کلیمو کي پکار لویږي .
لکه : شهروند .

ما د (وند) په هکله پلټنه کړیده خو (وند) په بیلو ژبو او بیلو روایاتو کي بیل بیل معنا سویدی . د بیلګي په ډول اغلي محبوبي خپلواک د شهروند په هکله ژباړه کړیده او په یوه برخه کي ئی داسي لیکلي دي :

« د شهروند ویی په دری ژبه کي له دوو کلیمو څخه جوړه ده چي یوه ئي شهر او بله ئي د وند وروستاړی دی، د معین په قاموس کي راغلي دي چي شهر د لویي ودانی په مانا ده چي پکي لوی سړکونه ، کوڅي ، کورونه او دوکانونه وي او همدارنګه د مملکت په مانا هم ده . په فارسي کي شهر د تبعه یا تابع په مفهوم کاریده او د وند وروستاړی د خدای په مانا کاریده» . پدې صورت کي د معین شهروند د ( خدای تابع ) معنا ورکوي چي زما په اند د اوسني شهروند سره همږغي نلري .

په فارسي ویکیپیدیا کي (وند) د انګلیسي ( zen ) څخه ترجمه سویدی لکه : Citizen ( شهروند ) او Netizen چي په ( نیت وند ) سره ترجمه سویدی . د Netizen یا Cybercitizen اصطلاح په کال ۱۹۹۰ کي د امریکایي مایکل هابن لخوا رامنځته سول چي د انترنیتي ښاري یا شهروند انترنیتي په معنا دی ، څوک چي په ورځنیو چارو کي انترنیت ډیر کاروی .

ما په انګلیسي قاموسونو کي کوښښ وکړ چي په پورته کلیمو کي د zen معنا پیدا کړم خو متأسفانه چي څه مي و نه موندل . یوه معنا مي پیدا کړل او هغه داچي :

Zen د بودایانو هغه فرقي ته ویل کیږي چي د عبادت او ریاضت پلوي کوي . چي دلته د سیتیزن سر نه لګوي . همداسي د فارسي په ( شهروند ) او ( نیت وند ) کي هم د ( وند ) معنا ګونګه او مبهمه ده .

تر کومه ځایه چي ما پلټنه کړیده ( وند ) اصلاً د پښتو کلیمه ده چي د میوند ، ژوند ، خاوند ، خوند ، بدخ وند (بدخوند) اخ وند ( اخوند ) ، ارغ وند ، پووند ( شپون ) ، پي وند (پیوند) او مروند په شان نورو کلیمو کي هم لیدل کیږي .

د (وند) د معنا په هکله د اردو ژبي ژبپوهان په خپله ویکیپیدیا کي داسي لیکي :

د وروځو ( ابرو ) تر منځ خالي ځای ته (وند) ویل کیږي او د ( خداوند ) په شان کلیمو کي استعمال سویدی .

پښتو ژبه پر اوستایي وروستاړو سربیره داسي ریښتني او معنا لرونکي وروستاړي لري چي هم په ځانګړي ډول او هم د کلیمي سره په ګډ شکل کي معنا ورکوي لکه : ( تون ) ، ( وال ) ، ( وان ) او داسي نور .

په ټوله کي وروستاړی او مختاړی د ترلو یا یوځای کولو دنده لري ، ځکه نو مستقیل ندي او باید د نورو کلیمو سره یو ځای وي .

په پښتو ادب کي هم په پراخه کچه لیدل کیږي چي ډیر محترم لیکوالان د ( وند ) پر ځای د ( من ) وروستاړی کاروي، پداسي حال کي چي ما و نکړای سول په پښتو ژبه کي د ( من ) معنا او ریښه پیدا کړم ، خو بیا ئي هم ډیر لیکوالان په ټینګار سره پکار وړي .

لکه : ځواکمن ، هنرمن ، ګیله من او داسي نور .

که څه هم ( من ) په اویستایي ( جرمن ) د سانسیګریت په ( چرمن ) او د پښتو په ( څرمن ) کي چي درې واړه یوه معنا لري او همداسي د سانسیګریت په ( جرمن ) کی چي د شپې معنا ورکوي لیدل کیږي خو ما تر اوسه ندي موندلي چي ( من ) په ځانګړي ډول څه معنا لري .

لحاظا زه ټولو ښاغلو لیکوالانو ته وړاندیز کوم که موږ په ګډه سره د فارسي دري او پښتو په ادبیاتو کي د (وند) او (من) پر ځای یو ګډ او معنا لرونکی ورستاړی یعني ( مند ) استعمال کړو ګټه به ئي داوي چي یو به خویندو ژبو ګډه ادبي کلیمه لرلي وي بل داچي یو طبیعي او معنا لرونکی ورستاړی به په ټولو ادبیاتو کي رواج سي .

معنا داچي (مند) معنالرونکی، ښکلی او د طبعي ژبي لرغونی لغات او وروستاړی دی چي ما ئي په هکله پلټنه کړیده.

(مند) د اویستایي ژبې لغات دی چې د پښتو ژبې سره نژدې خپلوي لري ، زما د خبرې ثبوت پخپله د اویستا کتاب دی . که موږ او تاسو په اویستا کی د ارياناویجه په شمول هغه شپاړس سیمی یا ملکونه وګورو کوم چې اهورامزدا و زردښت ته معرفي کړيدي نو سمدستي به یو د هغو شپاړسو ملکو څخه چی په یولسمه شمیره کي راځي هلمند ووینو .
هلمند په بیلو اثارو کي د بیلو لیکوالانو له خوا په بیلو شکلو لیکل سویدی .
لکه : هیرمند ، هیرمید ، تومانت ، هرمند ، هنتومنت ، ایری مانتوس ،ایتي ماندروس، ایتامند او هیومیت . صرف د نظام الدین شامی په کتاب ( ظفرنامه ) کي چې د ګوډ تیمور د فتوحاتو په هکله ئي لیکلی دی هلمند ئي د « هرمن او هلمن » په ډول راوړی دی چې یقیناً تحریف سوی شکل دی . ځکه چې د هلمند تر ټولو لومړی او اصلي شکل اویستایي Haētumant ( هئیتومنت ) دی . هئیتومنت په سانسګریت کي سئیتومنت راغلی دی ، ځکه چې په سانسیګریت کي تل د اویستا ( ه) په (س ) اوښتي ده لکه : هوما او سوما .
د هلمند اویستایي شکل د ( داویه ) د زوی قرنبغ د کتاب ( بندهشن یا بندهش ) په ۲۱ او ۲۲ فصل کي هم تائید سویدی . همداسي د وندیدا په لومړي فرګرد او ۱۳ مه برخه کی هم په عین ډول لیکل سویدی .
(هئیتو) د اوبو او د اوبو د بند ( ورخ، ورغ ) په معنا او ( منت یا مند ) د درلودونکي ، خاوند یا صاحب په معنا دی .
یعني عزتمند = د عزت خاوند ، څواکمند = د څواک خاوند ... .
پایله داچي ( مند ) نه یوازی معنا لرونکی ورستاړی دی بلکه یوه ښکلي او د طبیعي ژبې کلیمه هم ده چي کارول به ئي هم معنا ولري او هم ښکلا .

۲۶ – ۱۲ - ۲۰۱۷